# الفتح

**مدنی سورة دی ۲۹ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِنَّا فَتَحۡنَا لَكَ فَتۡحٗا مُّبِينٗا ١

**( ای پیغمبره!) مونږ( د حدیبیی د سولې په تړون سره) تا ته ځرګنده فتحه درکړه.**

لِّيَغۡفِرَ لَكَ ٱللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنۢبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعۡمَتَهُۥ عَلَيۡكَ

وَيَهۡدِيَكَ صِرَٰطٗا مُّسۡتَقِيمٗا ٢

**ترڅو الله تعالی (په دې ستره بریا سره) ستاسو هغو تقصیرات او اشتباهات چې( د اسلام د پرمختګ په لاره کې) درنه شوی او یا په راتلونکی کې واقع کیږی درته وبښي،او( د مکې او نورو ښارونو په فتحه کولو سره به) خپل نعمتونه په تاسو د اکمال درجې ته ورسوی او د هدایت په مستقیمه لاره به مو قایم او ثابت وساتی( د اسلامی دولت د تأسیس او استقرار په لار کې به ټولې ستونزې هوارې او خلک به ډلې ډلې د اسلام په مقدس دین مشرف شی او بې له کومې ویرې ترهې به د امن او سولې په فضا کې ژوند وکړی).**

وَيَنصُرَكَ ٱللَّهُ نَصۡرًا عَزِيزًا ٣

**او( داسې) پیاوړی او نه ماتیدونکی نصرت یې درکړی( چې هیڅ ذلت او شکست نه منی. رښتیا هم چه د حدیبیی د سولې په تړون سره، د اسلامی دولت کورنی او بهرنی حاکمیت او سیادت تثبیت شو، رسول الله صلی الله علیه وسلم د نبوت او رسالت تر څنګ، د یوه سیاسی رهبر او لارښود پحیث د نړیوال سیاست ډګر ته راووت، مدینه منوره د اسلامی امت او دولت د پایتخت پحیث وپیژندل شوه او مشرکانو د مدینې اسلامی دولت او د هغه حاکمیت او استقلال منلو ته غاړه کیښوده).**

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ فِي قُلُوبِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ لِيَزۡدَادُوٓاْ إِيمَٰنٗا مَّعَ إِيمَٰنِهِمۡۗ

وَلِلَّهِ جُنُودُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ٤

**(الله تعالی) هغه ذات دی چې د مؤمنانو په زړونو یې سکینت او اطمینان نازل کړ( تر څو یې په اخلاص سره د حدیبیی د تړون په باب د الله او رسول امر ته غاړه کیښوده او د الهی اطمینان په برکت یې) ایمانی( او نظامی) مورال نور هم پیاوړی شو، او د آسمان او ځمکې ټول( نظامی، معنوی او روحی قوتونه او) لښکرې د الله تعالی په واک کې دی( چې د خپلو مخلوقاتو په مصالحو) پوره پوه او د حکمت څښتن ذات دی.**

لِّيُدۡخِلَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا
وَيُكَفِّرَ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عِندَ ٱللَّهِ فَوۡزًا عَظِيمٗا ٥

**ترڅو ایمان لرونکی نارینه او ښځمنې په هغو جنتونو کې هستوګن کړی چې( د ونو) لاندې یې( د الهی نعمتونو) ویالې روانې دی، دوی به هم هلته تلپاتې او د ټولو ګناهونو نه پاک شوی وی، او( دغه نیک عاقبت) د الله تعالی په نزد یو ستر بریالیتوب ګڼل کیږی.**

وَيُعَذِّبَ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ وَٱلۡمُشۡرِكَٰتِ
ٱلظَّآنِّينَ بِٱللَّهِ ظَنَّ ٱلسَّوۡءِۚ عَلَيۡهِمۡ دَآئِرَةُ ٱلسَّوۡءِۖ وَغَضِبَ ٱللَّهُ
عَلَيۡهِمۡ وَلَعَنَهُمۡ وَأَعَدَّ لَهُمۡ جَهَنَّمَۖ وَسَآءَتۡ مَصِيرٗا ٦

**او نارینه منافقان او منافقې ښځې او نارینه مشرکان او مشرکې ښځې په عذاب اخته کړی، چې( د کلمة الله په ارتقا او برى او د کفرى قواو په ماتې د غم په ټغر ناست دی) او د الله تعالی په باب ناوړه ګومان کوی( چې ګنې رسول اکرم به مات او کافران به بریالی کړی). د زمانې آفات او مصیبتونه دې د دغو (منافقانو او مشرکانو) په سر وی، دوی د الله د قهر او غضب وړ او له رحمت نه یې رټل شوی دی. د دوزخ اور ورته تیار شوی چې تر ټولو بد ټاټوبی دی.**

وَلِلَّهِ جُنُودُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ٧

**او د آسمانو او ځمکې ټولې لښکرې د الله تعالی د مالکیت او سلطنت لاندی دی( او هر وخت چې اراده وکړی د خپل حق دین دښمنان وربانډې ټکولې او تباه کولی شی) بیشکه چې الله تعالی( پخپلو ټولو اقداماتو) برلاسی او د حکمت څښتن ذات دی.**

إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ شَٰهِدٗا وَمُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ٨

**( ای پیغمبره!) ته مو( د اسلام د حقانیت او د کفر او شرک د بطلان د اثبات لپاره) د ګواه په حیث استولی یې،او هم به (اطاعت کوونکو ته د اخروی ابدی نیکمرغۍ او جنت) د زیری ورکوونکی، او( سرغړوونکو او کافرانو ته د سخت عذاب) اخطار ورکوونکی په حیث خپل رسالت سرته ورسوې.**

لِّتُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُعَزِّرُوهُ وَتُوَقِّرُوهُ وَتُسَبِّحُوهُ
بُكۡرَةٗ وَأَصِيلًا ﴿٩﴾

نو( ای بشری پرګنو!) په الله تعالی او د هغه په رسول ایمان راوړی،د پیغمبر ملاتړ وکړئ( د دښمنانو له اذیت او تکلیف نه یې وساتئ)، د هغه احترام او درناوی وکړئ( او د الله تعالی د حق دین د پرمختګ په ستره چاره کې یې ملګری شئ) او سهار مابښام د الله تعالی ثنا او تسبیح بیان کړئ.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ ٱللَّهَ يَدُ ٱللَّهِ فَوۡقَ أَيۡدِيهِمۡۚ فَمَن
نَّكَثَ فَإِنَّمَا يَنكُثُ عَلَىٰ نَفۡسِهِۦۖ وَمَنۡ أَوۡفَىٰ بِمَا عَٰهَدَ عَلَيۡهُ ٱللَّهَ فَسَيُؤۡتِيهِ
أَجۡرًا عَظِيمٗا ﴿١٠﴾

( ای پیغمبره!)هغه کسان چې له تا سره( په حدیبیه کې د ځانی قربانۍ او له جګړې نه د نه تیښتې) بیعت کوی، په حقیقت کې یې له الله تعالی سره بیعت کړی، او د الله تعالی( د قدرت) لاس د هغوی د لاسونو د پاسه دی( یعنې له رسول الله سره بیعت کاملاً له الله تعالی سره بیعت دی) او څوک چې خپل عهد ماتوی، زیان او تاوان یې خپل دی او څوک چې له الله تعالی سره پخپل عهد وفا کوی الله تعالی به  یې ډیر زر په لوی اجر( جنت) سرلوړی کړی.

سَيَقُولُ لَكَ ٱلۡمُخَلَّفُونَ مِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ شَغَلَتۡنَآ أَمۡوَٰلُنَا وَأَهۡلُونَا
فَٱسۡتَغۡفِرۡ لَنَاۚ يَقُولُونَ بِأَلۡسِنَتِهِم مَّا لَيۡسَ فِي قُلُوبِهِمۡۚ قُلۡ فَمَن يَمۡلِكُ
لَكُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيۡـًٔا إِنۡ أَرَادَ بِكُمۡ ضَرًّا أَوۡ أَرَادَ بِكُمۡ نَفۡعَۢاۚ بَلۡ كَانَ ٱللَّهُ بِمَا
تَعۡمَلُونَ خَبِيرًا ﴿١١﴾

( ای پیغمبره! له حدیبیی نه ستا د راستنیدو سره سم به، له جهاد نه) شاته پاتې شوی صحرایی اعراب( د پلمو جوړولو لپاره) تا ته ووایی چې مونږ له خپلو کورنیو او مالونو سره مصروف پاتې شو( او له همدې امله د جګړې ډګر ته رارسیدی و نه شو) نو زمونږ لپاره بښنه وغواړه. دوی په ژبو هغه څه وایی چې په زړونو کې یې نشته( نه یې له جهاد سره مینه وه او نه له الله تعالی نه په بښنه عقیده لری). ورته ووایه که الله تعالی درته د زیان رسولو یا ګټې رسولو اراده وکړی،آیا داسې څوک شته چې د الله تعالی د ارادې مخه ونیسی؟ بلکه( هیڅوک یې مخه نشی نیولی او) الله تعالی ستاسو په ټولو کړنو ډیر ښه خبر دی.

بَلْ ظَنَنتُمْ أَن لَّن يَنقَلِبَ ٱلرَّسُولُ وَٱلْمُؤْمِنُونَ إِلَىٰٓ أَهْلِيهِمْ أَبَدًا وَزُيِّنَ
ذَٰلِكَ فِى قُلُوبِكُمْ وَظَنَنتُمْ ظَنَّ ٱلسَّوْءِ وَكُنتُمْ قَوْمًۢا بُورًا ﴿١٢﴾

بلکه تاسو فکر کاوه چې پیغمبر او مؤمنان به بیرته خپلو کورونو ته ژوندی راستانه نشی( او الله تعالی به د خپل رسول او مؤمنانو مرسته و نه کړی)او همدغه باطل ګومان مو په زړونو کې درته ښه او معقول ښکاره شوی و، دومره بد ګومان، چې بالاخره ستاسو د هلاکت سبب شو.

وَمَن لَّمْ يُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ فَإِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلْكَٰفِرِينَ سَعِيرًا ﴿١٣﴾

او څوک چې په الله تعالی او پیغمبر ایمان نه راوړی( الله تعالی ته هیڅ زیان نشی اړولی) بلکه مونږ د کافرانو لپاره سوځوونکی اور تیار کړی دی.

وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ يَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ ۚ
وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٤﴾

او د آسمانونو او ځمکې مالکیت او سلطنت یوازې الله تعالی ته ځانګړی دی. چاته چې اراده وکړی ښښنه ورته کوی، او چاته چې اراده وکړی په عذاب یې محکوموی، او الله تعالی ډیر زیات ښښونکی او مهربان ذات دی( او په قدسی مبارک حدیث کې فرمایی: «سبقت رحمتی غضبی» زما رحمت زما په غضب غالب دی).

سَيَقُولُ ٱلْمُخَلَّفُونَ إِذَا ٱنطَلَقْتُمْ إِلَىٰ مَغَانِمَ لِتَأْخُذُوهَا
ذَرُونَا نَتَّبِعْكُمْ ۖ يُرِيدُونَ أَن يُبَدِّلُوا۟ كَلَٰمَ ٱللَّهِ ۚ قُل لَّن تَتَّبِعُونَا
كَذَٰلِكُمْ قَالَ ٱللَّهُ مِن قَبْلُ ۖ فَسَيَقُولُونَ بَلْ تَحْسُدُونَنَا ۚ بَلْ كَانُوا۟
لَا يَفْقَهُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٥﴾

کله چې تاسو (د خیبر د نیولو) او غنیمتونو د لاسته راوړلو لپاره روان شئ( د حدیبیی له غزا نه) پاتې شوی کسان بهووایی: مونږ ته هم اجازه راکړئ چې درسره لاړ شو( ځکه پوهیږی چې د مؤمنانو په لاس د خیبر فتحه او د غنیمتونو لاسته راوړل د الله تعالی حتمی فیصله ده). دوی غواړی د الله تعالی کلام ( او امر)بدل کړی. ورته ووایه: هیڅکله له مونږ سره تللی نشئ، الله لا وړاندې، ستاسو د بې برخې کیدو په باب حکم صادر کړی( چې د خیبر غنیمتونه یوازې د حدیبیی په غزا کې د ګډون کوونکو مجاهدینو حق دی) خو دغه متخلفین به ووایی چې تاسو زمونږ سره کینه کوئ،( داسې نه ده بلکه د دین په چارو کې)د دوی د پوهې معیار ډیر

**کمزوری دی( او په دی حقیقت نه پوهیږی چې د اسلامی جهاد هدف باید یوازې د الله تعالی رضا او د اخروی نیکمرغۍ لاسته راوړل وی).**

قُل لِّلۡمُخَلَّفِينَ مِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ سَتُدۡعَوۡنَ إِلَىٰ قَوۡمٍ أُوْلِي بَأۡسٖ شَدِيدٖ
تُقَٰتِلُونَهُمۡ أَوۡ يُسۡلِمُونَۖ فَإِن تُطِيعُواْ يُؤۡتِكُمُ ٱللَّهُ أَجۡرًا حَسَنٗاۖ وَإِن
تَتَوَلَّوۡاْ كَمَا تَوَلَّيۡتُم مِّن قَبۡلُ يُعَذِّبۡكُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا ١٦

**(له جهاد نه) شاته پاتې شویو عربی ( قبیلو) ته ووایه ډیر زر به تاسو ته له یوې پیاوړې جنګی ډلې سره د جګړې قوماندہ درکړی شی، چې باید تر هغه ورسره وجنګیږی ترڅو ایمان راوړی( او یا جزیې ورکولو ته غاړه کیږدی). نو که تاسو د امر اطاعت وکړ الله تعالی به درته نیک اجر درکړی او که مو د پخوا په شان سرکشی وکړه، له سخت او دردوونکی عذاب سره به مخامخ شی.**

لَّيۡسَ عَلَى ٱلۡأَعۡمَىٰ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡأَعۡرَجِ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡمَرِيضِ حَرَجٞۗ
وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ يُدۡخِلۡهُ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ وَمَن
يَتَوَلَّ يُعَذِّبۡهُ عَذَابًا أَلِيمٗا ١٧

**که ړانده، ګوډ شل او ناروغان( له جګړې نه پاتې شی) ګناه وربانډې نشته، او څوک چې د الله تعالی او د هغه د رسول اطاعت وکړی، په هغو جنتونو کې به هستوګن وی چې د ( ونو او ماڼیو) لاندې یې( د الهی نعمتونو) ویالې روانې دی، او څوک چې انکار او سرکشی وکړی دردوونکی عذاب به یې په برخه وی.**

۞ لَّقَدۡ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ إِذۡ يُبَايِعُونَكَ تَحۡتَ ٱلشَّجَرَةِ
فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمۡ فَأَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ عَلَيۡهِمۡ وَأَثَٰبَهُمۡ فَتۡحٗا قَرِيبٗا ١٨

**بې له شکه الله تعالی له هغو مؤمنانو خوښ دی چې( په حدیبیه کې یې) د ونې لاندې ستا سره په بیعت( رضوان) د ځانی قربانی تعهد وکړ. الله تعالی د هغوی د زړونو (په پاک نیت او اخلاص) ډیر ښه پوهیده، ځکه خو یې ډاډ او اطمینان وربانډې نازل کړ، او د( انعام په توګه یې د خیبر) په نږدې راتلونکې فتحه سرلوړی کړل.**

وَمَغَانِمَ كَثِيرَةٗ يَأۡخُذُونَهَاۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمٗا ١٩

او هم يې ورته ډېر زيات غنيمتونه ورپه برخه کړل، چې( ډېر زر) به يې ترلاسه کړی. او الله تعالی پخپلو ټولو چارو او اقداماتو برلاسی او حکمت لرونکی ذات دی.

وَعَدَكُمُ ٱللَّهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةٗ تَأۡخُذُونَهَا فَعَجَّلَ لَكُمۡ هَٰذِهِۦ وَكَفَّ
أَيۡدِيَ ٱلنَّاسِ عَنكُمۡ وَلِتَكُونَ ءَايَةٗ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ وَيَهۡدِيَكُمۡ صِرَٰطٗا
مُّسۡتَقِيمٗا ٢٠

الله تعالی ستاسو سره د لا زياتو غنيمتونو وعده کوی چې تاسو به يې ترلاسه کړئ او دا ( د خيبر فتحه) يې ستاسو لپاره راوړاندې کړه او د خلکو( د ظلم زور) لاسونه يې درنه لنډ کړل،تر څو دغه بريا د مؤمنانو لپاره( د الهی مرستې او اسلام د حقانيت ) دليل وی او تاسو د هدايت په مستقيمه لار رهی کړی.

وَأُخۡرَىٰ لَمۡ تَقۡدِرُواْ عَلَيۡهَا قَدۡ أَحَاطَ ٱللَّهُ بِهَاۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ
شَيۡءٖ قَدِيرٗا ٢١

او نور( غنيمتونه او فتحې هم شته چې) لا تر اوسه ستاسو په برخه شوی نه دی او الله تعالی ورباندې پوره تسلط او احاطه لری( او کولی شی په ډېره اسانی سره يې ستاسو په برخه کړی) بيشکه چې الله تعالی (پخپلو ټولو اقداماتو) برلاسی او قدرت لرونکی ذات دی.

وَلَوۡ قَٰتَلَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوَلَّوُاْ ٱلۡأَدۡبَٰرَ ثُمَّ لَا يَجِدُونَ وَلِيّٗا وَلَا
نَصِيرٗا ٢٢

که کافران ستاسو سره جګړه پيل کړی، ډېر زر به بيرته وتښتی او بيا به د خپل ملاتړ لپاره هيڅ سرپرست او مرستندوی و نه مومی.

سُنَّةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلُۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبۡدِيلٗا ٢٣

دا د الله تعالی ثابته او قاطعانه کړنلاره ده چې له پخوا نه( د مؤمنانو د فتحې او د کافرانو د ماتې او رسوايی په باب) راروانه ده، او د الله تعالی په کړنلاره کې به هيڅ تغير او بدلون و نه مومی.

وَهُوَ ٱلَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُم بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنۢ بَعْدِ أَنْ
أَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا ﴿٢٤﴾

**او الله تعالی هغه ذات دی چې تاسو ته یې( بې له جنګ او وینو تویولو) په دښمن بریا او فتحه درکړه، او د مکې په زړه( حدیبیه) کی یې د هغوی لاس ستاسو، او ستاسو لاس له هغوی څخه منع کړل، او بیشکه چې الله تعالی ستاسو د ټولو کړنې ( د کفارو فتنې او شرارتونه او په مقابل کې یې ستاسو صبر او تحمل) ډیر ښه وینی.**

هُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَصَدُّوكُمْ عَنِ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ وَٱلْهَدْيَ
مَعْكُوفًا أَن يَبْلُغَ مَحِلَّهُۥ ۚ وَلَوْلَا رِجَالٌ مُّؤْمِنُونَ وَنِسَآءٌ مُّؤْمِنَٰتٌ لَّمْ
تَعْلَمُوهُمْ أَن تَطَـُٔوهُمْ فَتُصِيبَكُم مِّنْهُم مَّعَرَّةٌۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖ لِّيُدْخِلَ ٱللَّهُ
فِي رَحْمَتِهِۦ مَن يَشَآءُ ۚ لَوْ تَزَيَّلُوا۟ لَعَذَّبْنَا ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْهُمْ
عَذَابًا أَلِيمًا ﴿٢٥﴾

**دا هغه کسان دی چې کفر یې غوره کړی او تاسو یې مسجد حرام ته له ننوتلو منع کړئ او دا اجازه یې هم در نه کړه چې تاسو د خپلې قربانۍ څاروی، د حلالې ځای( منا) ته ورسوئ،او که دا ویره نه وی چې کیدی شی په مکه کې اوسیدونکی نوی مؤمنان او مؤمنې ښځې به، چې تاسو یې نه پیژنئ، په جګړه کې پایمال شی،( نو تاسو ته به مو د یرغل امر کړی وی، خو حکم یې در نه کړ) تر څو الله تعالی هر چاته چې اراده وکړی خپل رحمت ته یې داخل کړی، او که (کافران) او (مؤمنان) جلا جلا اوسیدی، نو مونږ به( د مکې) کافرانو ته( ستاسو په لاس) دردوونکی سزا ورکړې وی.**

إِذْ جَعَلَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فِى قُلُوبِهِمُ ٱلْحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ ٱلْجَٰهِلِيَّةِ فَأَنزَلَ
ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَعَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ
ٱلتَّقْوَىٰ وَكَانُوٓا۟ أَحَقَّ بِهَا وَأَهْلَهَا ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمًا ﴿٢٦﴾

(هغه وخت رایاد کړه) چې د کافرانو زړونه( د حدیبیی د تړون په وخت کې) د جاهلیت له تعصب او حمیت نه ډک وو( او په لات او منات یې قسمونه خوړل چې مؤمنان به عمرې ته نه پریږدی، او برسیره په دې یې اتیا تنه جنګیالی په مخفیانه توګه د مؤمنانو په کمپ باندې د حملې لپاره واستول چې ټول د مؤمنانو له خوا ژوندی ونیول شول خو پیغمبر علیه السلام هغوی وبښل او سزا یې ور نه کړه) الله تعالی په خپل رسول او مؤمنانو ډاډ او اطمینان نازل کړ او دوی یې د تقوا په کلمه( لا اله الا الله محمد رسول الله) د الله تعالی رضا ته تسلیم او ثابت قدم وساتل،( چې نه یې د کافرانو د جاهلانه اقداماتو په مقابل جګړه پیل کړه او نه یې د بیت الله بې احترامی وکړه). او همدا د مؤمنانو حق او فریضه وه،( چې د جاهلیت په مقابل کې یې تقوا غوره کړه).بیشکه چې الله تعالی په ټولو چارو ښه خبر دی( او د هر چا استعداد ورته ډیر ښه معلوم دی او چاره یې ورته اسانوی).

لَّقَدْ صَدَقَ ٱللَّهُ رَسُولَهُ ٱلرُّءْيَا بِٱلْحَقِّ ۖ لَتَدْخُلُنَّ ٱلْمَسْجِدَ ٱلْحَرَامَ
إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمْ وَمُقَصِّرِينَ لَا تَخَافُونَ ۖ
فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوا۟ فَجَعَلَ مِن دُونِ ذَٰلِكَ فَتْحًا قَرِيبًا ﴿٢٧﴾

بې له شکه چې الله تعالی خپل رسول ته حق او رښتونی خوب ورښودلی و( چې په خوب کې یې ولیدل) تاسو به د امن او ډاډ په فضا کې په داسې حال کې مسجد حرام ته ننوزئ چې سرونه به مو خرئیلی او لنډ کړی وی، الله تعالی پوهیده او تاسو نه پوهیدئ( چې تاسو به په راتلونکی کال کې مسجد حرام ته داخلیږئ) او له هغه نه وړاندې یې درته بله فتحه( د حدیبیی سوله او د خیبر فتحه) په نصیب کړه.

هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ
كُلِّهِۦۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدٗا ﴿٢٨﴾

**الله تعالی هغه ذات دی چې خپل رسول یې له هدایت او حق دین سره واستاوه چې په ټولو نورو ادیانو یې برلاسی کړی او په دغه حقیقت د الله تعالی ګواهی تر ټولو موثقه او معتبره ده.**

مُّحَمَّدٞ رَّسُولُ ٱللَّهِۚ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ أَشِدَّآءُ عَلَى ٱلۡكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيۡنَهُمۡۖ تَرَىٰهُمۡ
رُكَّعٗا سُجَّدٗا يَبۡتَغُونَ فَضۡلٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٗاۖ سِيمَاهُمۡ فِي وُجُوهِهِم
مِّنۡ أَثَرِ ٱلسُّجُودِۚ ذَٰلِكَ مَثَلُهُمۡ فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِۚ وَمَثَلُهُمۡ فِي ٱلۡإِنجِيلِ كَزَرۡعٍ
أَخۡرَجَ شَطۡـَٔهُۥ فَـَٔازَرَهُۥ فَٱسۡتَغۡلَظَ فَٱسۡتَوَىٰ عَلَىٰ سُوقِهِۦ يُعۡجِبُ ٱلزُّرَّاعَ
لِيَغِيظَ بِهِمُ ٱلۡكُفَّارَۗ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِنۡهُم
مَّغۡفِرَةٗ وَأَجۡرًا عَظِيمَۢا ﴿٢٩﴾

**محمد د الله تعالی رسول دی، او د هغه د ملګرو صفت دا دی چې د کفارو په مقابل کې سخت دریځی، او پخپلو منځو کې سره ډیر مهربان او خواخوږی دی. تل به یې ګورې چې د الله تعالی د فضل او رضا د ترلاسه کولو لپاره په رکوع او سجود( عبادت) مصروف دی. په څیرو کې یې د سجدو( عبادت، تقوا او غوره اخلاقو نورانی) نښې له ورایه ښکاری. دغه یې صفتونه دی په تورات کې، خو په انجیل کې ( د اسلام او اصحابو کرامو) مثال هغه کښت ته ورته یاد شوی چې پلکې یا تیغ یې راوټوکیږی، بیا پیاوړی او قوی شی، بیا نور هم پوخ او کلک شی او پخپلو بنسټونو ټینګ ودریږی، په داسې حال کې چې کروندګر( اسلامی رهبران) یې پرله پسې ودې ته خوشالیږی، او په قوت او سمسورتیا یې د کافرانو په زړونو کې د غصې او کینې اور لمبې وهی. الله تعالی له نیک عملو مؤمنانو سره د ښښنې او ډیر لوی اجر او ثواب وعده کوی.**

**« تمت سورة الفتح بفضل الله رب العالمين»**

**====================**